افغانستان آزاد ـــ آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشـد تن من مبـــــاد		بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم		از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com		afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|

فقیر
۲۶ فبروری ۲۰۲۴

# تعلیم د آینده نسل او وطن نیکمرغی

د (نن. آسیا) ویبسایت د طالبانو د ځوان نسل په قلم چلیږی، خو ځینی په عمر پاخه او افراطی طالبان هم لیکنی ورته کوی.  عجبه داده چی بعضی وخت دومره منورې، د ملی احساس لرونکی، پاکستانی ضد او د علم او فردی آزادی پالونکی لیکنی پکی ښکاری چی سړی ورته حیران شی. سړی ته ویره پیدا شی چی ممکن که جاهل متحجر طالب یی ولولی ، ممکن یا دا لیکوال ووژنی  یایی له لیکلومنع کړی. نن می (نن.آسیا) کی لندن کی میشت د یو طالب پلوی لیکنه ولوسته چی د بنګله دیش هغه اقدام یی ستایلی چی نجونو او  هلکانوته یی د تعلیم زمینه اماده کړی ده او د بنګله دیش د ښځینه صدراعظمی ستاینه یی کړی. حال داچی جاهل طالب د ښځي ستاینه څه چی د ښځو صدراعظمی کفر بولی. نوموړی لیکوال له پنجاب د بنګله دیش د ولس ا آزادی ګټل ستایلی دی، خو د پنجاب غلام طالب دا عمل غندی. دغه طالب پلوی لیکلی چی د بنګله دیش صدر اعظمه شیخ حسینه واجد د پدما پول جوړکړ.

ده دا هم لیکلی چی بنګله دیش د سمندر ترغاړی دی او زیاتره وخت سیلاوونه راوځي اود سمندر د یاغي کیدو له امله د تګ راتګ لارې او سړکونه بند او ژوند پر ټپه ولاړ وي.

نو ددې لپاره چي په سیلاب ځپلو سیمو کي دبنګله دیش ماشومان له تعلیم څخه محروم پاته نشي، د بنګله دیش حکومت د Floating School یا د کښتی په نوم  ښوونځی جوړ کړی چی د سیلاوونو په موجودیت کی هم دتعلیم وخت نه ضایع کیږی.

له دې څخه ښکاری چی طالبانو کی داسی معتدل کسان شته چی د پردیو استخباراتو غلامان ندی، د وطن آبادی او ازادی غواړی او دنجونو او هلکانو د تعلیم طرفدار دی.

خبره تر دی  یاده شوه چی یو څو معتدلو او وطنی هوښیارو طالبانو دنجونو لپاره اقلاً څوولایتو کی اقلاً د روغتیا برخه کی د نجونو تعلیم د اجازی خبر نشر کړ، خو کله چی متحجر جاهل اود پنجاب غلام طالب خبر شو د دی خبری مخالفت یی وکړ . نو وطنوالو ته په کار ده چی د افراطی جاهل او د استخباراتو د غلام طالب وپیژنی او د وطنی طلبای کرام او ددین دواقعی خدمتګار او مُلا توپیر وکړی. د مسلمان او متقی مُلاصاحبانو ملاتړ په کار دی، خو د پنجابی غلام سیاسی مُلا محوکول په کار دی.